# ایا ابوالخیر خټک و؟ نوي مباحث نوې څېړنه

رحمت بي بي اڅکزۍ*
ډاکټر روف رفیقي*

**Abstract**:

The authors of this research paper strive to unpack the ethnic linkages of Pashto literary figure Abu Ul Khair. The authors carried out thorough historical study on the basis of the only and one page of his poetic collection. The authors opines that Abu Ul Khair is one of the sons of the Khushal Khan Khattak mentioned in the authentic research findings.

د ابوالخیر په نامه یاتخلص مونږ تر اوسه په پښتو ادبیاتو کې فقط دوه کسان درلودهٔ، یو ابوالخېر چې د جمعه خان زوی دی په خټه بنګش او زهیر بنګش تخلص کوي"(۱) په ټل کوهاټ کښې، په ۱۵ فروري ۱۹۶۱زوکړی دی."(۲)

بل د جنوبي پښتونخوا نامتو ادیب او شاعر ابوالخیر څلاندوو زوکړه ۷ جون ۱۹۳۹ سره غوړګۍ کوټه د امیر جان زوی په خټه بازی کاکړ، مړینه ۷ جنوري ۲۰۱۴م ښخ سره غوړګۍ کوټه."(۳)

خو زمونږ د دغه مقالې ابوالخیر نوی کس دی چې د مردف دیوان د قلمي نسخې یکې یوه پاڼه یې په کوټه کښې په ډاکټر رفیقي څېړنیز مرکز کې خوندي ده، د همدغه پاڼې پر بنیاد ډاکتر عبدالروف رفیقي لومړی ځل د دغه ابوالخیر په باب لیکنه وکړه "ابوالخیر یو نوموړکی شاعر" چې په پالنه مجله کوټه کښې چاپ شوه.

په دغه لیکنه کښې ډاکتر صاحب د دغه پاڼې د لاس ته راوړلو خبره کړې د پاڼې د کیفیت او ابوالخیر په باب داسې لیکي:

" دغه پاڼه ډېره زړه، پر زړېخون پخواني کاغذ په تور خط نوشته لري چې قدامت ځنې اټکل کیږي خو د نوو څېړنیزو اوصولونو په اړه بیخي هېڅ نهٔ شم اټکل کولی چې په کوم

* M.phil scholar, Pashto Department, University of Balochistan, Quetta
* Director Khan Shaheed Chair University of Balochistan, Quetta

وخت کېښي او په کوم ځای کښې دي د چا په لاس نوشته شوې وي پخپله دي د ابو الخير په لاس نوشته شوې وي که د کاتب ... نه د دغه دستياب متن د کلام څخه څهٔ داسې داخلي شهادت لاس ته راځي چې معلومېږ د دې څخه د دهٔ د ژوندانهٔ زمانه راوباسواو نهٔ بل داسې څهٔ خارجي شهادت موجود دی چې د دهٔ د اوسيدو ،قام، نسب او عمر او نورو احوالو په باب استفاده ځنې وشي د "هـ" د رديف په دغه شليدلي پاڼه کښې دابوالخير يو بشپړه اودوه نيمګړي شعرونه د يوه د پېل اود بل د پای برخه راغلي ده. "(۴).

د دغه لېکني پس په کال ۱۴۲۲ه ق ۱۳۸۰ ه ش کښي چي کله د خوشحال خان ختک د زوکړې څلور سوم کال په نړيواله توګه ولمانځل شو نو په دغه اړه نهٔ يواځې د نړۍ په ګوټ ګوټ کښې سېمينارونه او علمي څېړنغونډې وشوې بلکې د خوشحال بابا په اړه يو شمېر آثار او څېړنې له چاپه راووتې چې په خوشحالياتو کښې نوې اضافې ګڼلې شو په دغه آثارو کښې د بون جرمني څخه د افغانستان د کلتوري خدمتونو د ادارې له خوا د خوشحال خان ختک فراقنامه د زلمي هيوادمل د څېړنو او تعليقاتو سره چاپ شوه، په دغه فراق نامه کښې د خوشحال بابا دا مشهور شعر هم راغلی دی

یاد د هغو چې له وطنه بې وطنه دي

| | |
|---|---|
| چې مېشته په سنګاوو دي | په عظيم درياب لاهو دي |
| دهغو په حال خبر شوای | رابنکاره چې هر اثر شوای |
| چې څهٔ خورځهٔ يې خوراک دی | څهٔ ئې ژواک څهٔ ئې څوښاک دی |
| کوم روزګار کاندي په غم کښې | کوم کوم کار کاندي په غم کښې |
| حال د جټ د مور څهٔ شان دی | زړهٔ يې څو ځايه پريشان دی |
| د خالو د مور څهٔ حال دی | په څهٔ څيز يې اشتغال دی |
| څهٔ کا مور د صدر څهٔ کا | جدايي شوه خدای خپل کړه کا |
| حال به څهٔ د باز د مور وي | په اور سوی لکه سکور وي |
| هم صورت هم يې سيرت | واړه غم سره لت پت |
| څهٔ مي زويه څهٔ مي لوڼه | څهٔ مي خوندي څهٔ مي وروڼه |
| څهٔ ياران څهٔ عزيزان دي | چې په دا آتش بريان دي |
| اوويشت زويه و ديرش لوڼه | دوې مي خوندي درې مي وروڼه |
| تر فليا تر عطا ميره | تر نقيره تر قطميره |
| حال د واړو را اظها شوای | په هر څهٔ يې خبردار شوای |
| هغه ملک دي خدای ګلزار کا | چې مي زويه په کښې ښکار کا |

هغه ملک دي خدای آباد کا — چې مې کښت په کښې اولاد کا
هغه ملک دي خدای معمور کا — چې هلک مې پرې سرور کا
هغه ملک نۀ دی بوستان دی — چې په کښې سعادت خان دی
هغه ملک سراسر کام دی — چې په کښې دي ما بهرام دی
هغه ملک واړه ګلفام دی — چې په کښې دي ما نظام دی
هغه ملک دمښکو هټ دی — چې په کښې دبابا جټ دی
هغه ملک عشرت آباد دي — چې په کښې دي ما آذاد دی
هغه ملک واړه بخمل دی — چې په کښې دي ما افضل دی
هغه ملک ګل ریحان دی — چې په کښې مې عابدخان دی
هغه ملک واړه پسرلی دی — چې په کښې دي ما خلی دی
هغه ملک واړه جنان دی — چې په کښې دي بابا جان دی
هغه ملک د زړۀ واصل دی — چې په کښې دبابا دل دی
هغه ملک سره تل راز دی — چې په کښې دي بابا باز دی
هغه ملک واړه اوتاک دی — چې په کښې ښکلی بختناک دی
هغه ملک واړه شکر دی — چې په کښې دي ما ظفر دی
هغه ملک واړه ثمر دی — چې په کښې دي ما سکندر دی
هغه ملک کله بیدال دی — چې په کښې دي ما کمال دی
هغه ملک سراسر مال دی — چې په کښې دي ما جلال دی
هغه ملک د دورې خیر دی — چې په کښې مې ابوالخیر دی
هغه ملک واړه سرۀ زر دی — چې په کښې دي ما ګوهر دی
هغه ملک واړه عجب دی — چې په کښې دي ما عجب دی
هغه ملک واړه راحت دی — چې په کښې دي ما نصرت دی
هغه ملک واړه واه واه دی — چې په کښې مې نجم الله دی
هغه ملک واړه خیرګاه دی — چې په کښې عتیق الله دی
هغه ملک واړه دلخواه دی — چې په کښې نجیب الله دی
چې په کښې مې لوی هلک دی — چې په کښې واړه خټک دی
هغه ملک مې د زړۀ سر دی — همیشه مې پرې نظر دی
هغه ملک د سترګو تور دی — چې په کښې مې سپین وتور دی
هغه ځای مې چې همدم دی — هغه ځای چې مې ندم دی

که په تن په رټتبوریم
په زړۀ تل په هغه لور یم"(۵)

د خوشحال بابا پردغه شعر باندي ښاغلي زلمي هېوادمل ۲۵ ځایه پایلیکونه لیکلي دي د کتاب د پایلیکونو د ۲۱۴څخه ۲۳۸ تر پورې"(۶)

په دغه پایلیکونو کښې ۲۳۳شمېره و ابوالخیر ته په کښې رسېدلې ده.

" ابوالخیر د خان زوی دی او د زوکړې تاریخ یې نۀ دی ضبط شوی تاریخ مرصع یې د خان په زامنو کې یوازې نوم راوړی دی " (تاریخ مرصع ۲۶۰) (۷)

د تاریخ مرصع په پای کښې چې کوم انډکسونه راغلي دي لومړی انډکس یې د شخصي نومونو دی او د ابوالخیر یادونه په دې ډول کښې راغلې ده:

" ابوالخیر خان (د خوشحال خان خټک زوی) ۲۲۱، ۳۲۹(۸)

خو د تاریخ مرصع د انډکس په ورکړو مخونو یعنې ۲۲۱ او ۳۲۹کې بیخي د ابوالخیر ذکر نۀ شته ښایي چې دا د مخونو د شمېرو تیروتنه وي.

خوشحال بابا د خپلو ځینو زامنو د زیږېدو مادې په فارسي شعر کښې راوړې دي او افضل خان یې د تاریخ مرصع په متن کښې ذکر راوړی دی او دفارسي شعر پس یې ددۀ د خینو زامنو یادونې کړې دي چې د ابوالخیر خان نوم هم په کښې دی.

"....بل جلال خان او عادل خان او جعفر خان چې تاریخ د ولادت یې دا دی تاریخ

| | |
|---|---|
| مارا خدا چو عادل فرخنده بال داد | تاریخ او بخوان که بفرخنده فال زاد |
| او در جمادي ثاني اندر دوپنج با | زادست و جعفر از پس عشرین و یک زاد |
| از مولد جسته جعفر چوگه گذشت | آمدجلال و باد فرح بر دلم کشاد |

"بل عجب خان بل عبدالرحمان خان بل ابوالخېر خان بل نجابت خان بل شاکر خان بل طاهر خان بل فرحت خان بل امان الله خان بل کامران خان او ښادمان خان بل پیر خان دا فرزندان د خان علین مکان سوریتي وو او فرزندان د خان علین مکا ن چې په طفولیت کښې مړه شوي دي هغه دا دي اکبر خان......."(۹)

د خوشحال بابا یو شمېر زامن لمسیان کړوسیان او کورنۍ ډېر غړې شاعران او د قلم څښتنان وو او د دوی پر علمي ادبي خدمتونو ډېرې څېړنې شوې او یو شمېر آثار او مقالې پر چاپ شوې دي، په دوی کښې د نامتو څېړونکي ډاکټر عارف عثمانوف د خوشحال بابا د نغري د یو شمیر کسانو پت فن، فکر او آثارو څېړنه کړې ده لکه:

"اشرف خان ختک، عبدالقادر خان ختک، صدر خان ختک،کامګار خان ختک،علي خان ختک، سکندر خان ختک، عابد خان ختک،اکبر خان ختک، کاظم خان شیدا ،جمیل خان ختک، ګوهر خان ختک، توتیا ختکه، حلیمه ختکه او نور"( ۱۰)

**پایله**: دا چې په فراقنامه کښې خوشحال بابا د خپلو زامنو په قطار کښې د ابوالخیر خان نوم هم راوړی دی.

دا چې دخوشحال بابا پس د دهٔ لمسي اوددهٔ د کورنی مشهور مورخ افضل خان هم ا بوالخیر خان دخوشحال بابا په زامنو کښې راوړی دی.

دا چې خوشحال پیژندونکو لکه د فراق نامې څېړونکي زلمي هیوادمل او د تاریخ مرصع څېړونکي دوست محمد کامل مومند هم د ابوالخیر نوم د خوشحال بابا په زامنو کښې راوړی دی.

دا چې د خوشحال خان ختک یو شمیر زامن، لمسیان، کړوسیان او د کورنۍ ډېر غړي شاعران او د قلم څښتنان وو.

دا چې د ابوالخیر د کلام له داخلي متن، اسلوب او هنري کړهٔ وړهٔ څخه هم دا ښکاره کیږي چې دا د ختکو د کورنۍ د وګړي کلام معلومیږي.

نو مونږ د پورته ورکړل شوو داخلي اوخارجي شهادتونو او دلائلو په رڼا رڼا کښې دا ویلی شو چې کېدای شي چې پښتو د کلاسیکي دورې دغه شاعر ابوالخیر دي هم د خوشحال خان ختک زوی ابو الخیر خان وي چې تاریخونو خو یې نوم راوړی وو لیکن د دهٔ د نورو ورونو په شان یې په حېثیت د شاعر احوال تر اوسه نهٔ و راغلي.

دا چې و نوو څېړونکو ته د ابوالخیر په باب د نورو څېړنو زمینه مساعده شي غواړو چې په ډاکټر رفیقي څېړنیز مرکز کوټه کښې خوندي د ابوالخیر د یکې یوې کشف شوې پاڼې څخه د دهٔ د کلام متن رانقل کړو تر څو یوه نوې مستنده حواله د پښتو ادبیاتو څېړونکو ته وسپارو.

د انار په شان پر مغزه یک همان شه  د کدو په شان بې مغزه وجود مه کړه
د یقین له مخه ورک لکه کمان شه  د غفلت له خوابه پاڅه بیداري کا
د ګمان له بد لباس څخه عریان شه  د یقین په جامه پټ واړه بشر کا
د زرګر په شان صراف دخپل دکان شه  په معنی کي وجود کل واړه سرهٔ زر کا
په خطر کي یي د ویري د خزان شه  په چمن د حقیقت کي واړه ګل شه
بې له نفسه وهر چاته په احسان شه  که دي واک او وقوب رسي ونیکي ته

که راحت په عقبا غواړې ابوالخېره!

په دنیا کښې په طلب د هغۀ جهان شه

تــل تــر تلــه پــه معنــی شــه رنګینــه سـر تـر پایـه کـل وجـود کـړه آئینـه
د صــورت طعــام پــه اوردعشــق ســوځه ښـۀ یـي نـوش کـړه د معنـی ډکـه پیالـه
هســې ورک د مــا طــرف د حقیقــت شــه کـه یـې غـواړم مـدام ګـورم پـر سـینه
کــه طــامع یــې د معنــی د کنډپوښــه دا صـورت کـړه خرقـه پوشـه پشـمینه
د صـورت لښـکر بـه ټـول شـي فرمـان بـرد کـه د زړۀ پـه لاس انګشـت کـړې رنګینـه
نـورو خلقـو سـره کـین و جنـګ حـرام دی نـۀ لـه دېـوه اولـه نفـس سـره کینـه

په ښۀ خوی په ښۀ عمل شه ابوالخیره!
په صالح عمل وجود کړه پیرینه

تجـلا چـې راښـکاره سـتا د آفتـاب شـوه روښـنایي د شـمس قمـر قطـره د آب شـوه
لـه حیـا دي څـوک و مـخ تـه کتـای نـۀ شـي د صـورت بـرف ویلیـږي واړه آب شـوه
تــا چــې نیــت د معــراج د ختــو وکــړ دا هلالـه پـه سـلام سـتا د رقـاب شـوه
دا سـپین مـخ دي نـوراني دی چـې ځلیـږي پـه اثـر کښـې لکـه اور سـینه کبـاب شـوه
چـې یـې مـخ د سـترګو وا کـړ سـتا پـر ګلـو د لاله غونچه په وینو کښې غرقاب شوه
پـه اخـلاص چـې سـتا د حسـن احـوال ووې د سوسـن ژبـه اقـرار سـتا پـه جـواب شـوه
د لالــه پــه زړۀ یــي داغ د نقــش کښېښــو غـونچې سـترګې وسـپړلې پـه عـذاب شـوه
چې سور رنګ دي ستا لـه مخـه څخـه ورکړ واړه سور د عشق په خم کهنه ګلاب شوه
ځلــور خالــه دي د مــخ پــر ورق بانــدې دا همــه واړه معنــی د دې کتــاب شــوه
خال او خط دي په جوبین کښې هسې زیب کا چـې یـې ګـورې لار د حقـه د ثـواب شـوه
تـه چـې تیـغ د مـخ د آب تـر ګـلاب کـاږې علامـه د شـهیدوالي زمـا پـه بـاب شـوه
دا خفـاش چـې دي منکـر شـو لـه آفتابـه تـاریکي د دې غفلـت بانـدې سـحاب شـوه

❀❀❀

# حوالې

(۱) ترخوي، شیر شاه ،دا څوک دي؟ سرحد پښتو ادبي ټولنه پېښور، ۱۹۸۳مخ ۲۴

(۲) خلیل، همېش، د قلم خاوندان، پښتو اکیډمي پیښور/ پښتو ادبي بورډ پیښور ۱۹۹۹ء، مخونه ۲۹۸- ۲۹۵

(۳) رفیقي، عبدالروف، ډاکټر، ویاړلي دریم ټوک ناچاپه مخ ۳۵

(۴) رفیقي، عبدالروف، ډاکټر، ابوالخیر یو نومورکی شاعر، پالنه، صحاف خپرندویه ټولنه کوټه، لومړی کال دریمه ګڼه لیندۍ مرغومی ۱۳۸۰ ه ش مخ ۲۶

(۵) خټک، خوشحال خان، فراقنامه سریزه سمون او تعلیقات سرمحقق زلمی هیوادمل، پښتون کور بن جرمني ۱۳۸۰ ه ش مخ ۷۹- ۸۱

(۶) ایضاً، مخونه ۱۱۵- ۱۲۲

(۷) ایضاً، مخ ۱۲۲

(۸) خټک، افضل خان، تاریخ مرصع مقابله تصحیح او نوټونه دوست محمد خان کامل، یونیورسټي بک ایجنسي پېښور د چاپ کال نلري مخ ۱۳۸۳

(۹) ایضاً، مخونه ۲۵۹، ۲۶۰

(۱۰) عثمانوف، محمد عارف خوشحال خان او د ده ادبي مکتب د افغانستان د علومو اکاډمۍ کابل ۱۳۶۱ه ش مخونه ۱۲۴ تر ۱۹۳